


**ډاکتره رنجیت کورد بهرنیو زده کونکود څانګې مشره**

دپټیالې پوهنتون له رییس سره مې په خبروکې د افغان محصلینواودهغوی دعلمي کارونوپه اړه وپوښتل، هغه په دغه اړه راته وویل چې: موږ ته دافغانستان اوسني حالت ډیرښه معلوم دی، ستاسې دځوانانوپرستونزوپه تیره بیا هغوی چې دلته په هندوستان اوزموږ په پوهنتون کې زده کړې کوي،پوهیږو، څرګنده ده چې له هغوی سره دخپلې راتلونکې په اړه اندیښنې شته دي، دهغوپه وړاندې له خپلوکورنیوڅخه لرې والی په تیره بیا چې دهندوستان دحکومت له خوا دویزې ستونزه رامنځ ته شوې ده په خپله یوه ستونزه ده چې دوی یې زغمي. خوله دې ټولوسره سره موږ بیاهم هڅه کړې اولایی کووچې ددوی له پاره په خپل پوهنتون کې علمي اسانتیاووبرابرې کړو،باوري یم چې دوی به په ډاډه زړه خپل علمي کارونه اوڅیړنې په ښه توګه ترسره اوپای ته ورسوي ... د پوهنتون مشر دخارجی محصلینودڅانګې مشره اودانجینري پوهنځي استاده پروفیسوره رنجیت کور راوغوښته او ویی ویل چې زیات معلومات به دادرکړي، اودابه له افغان محصلینوسره ستاد لیدنې له پاره هم هڅه هم وکړي.

استادې رنجیت کودخپلوخبرو په پیل کې زما هرکلی وکړاوخوښي یې څرګنده کړه چې زه دلته راغلی یم اوبیا دخپلو محصلینود ژونداوعلمي بوختیاووپه اړه خبرې ور سره کوم ، نوموړې وویل، افغان محصلین په خورا ښه روحیه دلته په خپلوزده کړو بوخت دی، سره له دې چې ستونزې لرې خوموږهڅه کړې اوکوویې چې د دوی دستونزو په حل کې له دوی سره له بیلابیلوخواومرستې وکړو، له موږ سره ښایسته شمیرافغان زده کونکې دلته په لوړو زده کړو بوخت دي، کوم افغان زده کونکي چې دلته  لوړې زده کړې کوي دهغوی اکثریت برخه په خپلو دکتورۍ څیړنوبوخت دي، په هربرخه کې یې د لاربښودواستادانواوځانګړوڅانګوله خوالارښونه کیږي، زه ددغې برخې دمسوولې په توګه هڅه کوم چې تل د دوی له ستونزوڅخه ځان خبرکړم،زه په ټوله کې دافغان محصلینوله علمي هڅو،دپوهنتوني دسپلین




د پټیالی پوهنتون انجنیري پوهنځی

په نظرکې نیولوله چلند څخه ډاډمنه اوراضي یم په تیره بیا د دوی له نجونوڅخه چې دخپل هیواد په دغوسختوشرایطوکې بیاهم دخپل هیواد ارزښتونواوراتلونکې ته په جدي توګه کارکوي، څیړنې کوي اوپه یوه ژوندۍ روحیه موږته دافغانستان د راتلونکې ښیرازه ټولنې پیغا م را رسوي. ټول افغان محصلین چې زموږ په پوهنتون کې درس وایي دوی ټول دهنددحکومت سکالرشیفي امتیازلري. ددغې استادې غوښتنه وه چې زه باید له افغان محصلینوسره د دوی په یوه تالارکې غونډه ولرم، له دوی سره باید په خپله مخامخ خبرې وکړم او د دوی له اندیښنو، برياوو به خپله د دوی له لورې خبرشم . په ماښام کې یې یوخبرلیک محصلنوته له ماسره دلیدو په خاطرهغوی ته استولی وچې په لاندې انځورکې یې وینو.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي.  په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ  maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

